# په افغانستان کې د جندر وضعیت تحلیل او ارزونه

## سپټمبر ۲۰۲۲

### پېژندنه

طالبانو تېر کال د واک له ترلاسه کولو راهیسې، په سیستماتیک ډول د ښځو بنیادي بشري حقونه تر پښو لاندې کړي چې په دې کې د هغوی ازاد تګ-راتګ، تعلیم او کار ته لاسرسی او د بیان ازادي شامل دي. طالبان په ټوله کې د ښځو ژوند په کابو او محدودولو باندې تمرکز کوي او "په حقیقت کې دا د حاکمې اداري یو تر ټولو د پام وړ بحث پېژندل شوی دی." پر سخت بشري ناورین، اقتصادي سقوط/ځوړتیا او اقلیمي ناورینونو سربېره، په ټوله کې ښځې د تېر یوه کال په نسبت خوراکي توکو، روغتیایي پاملرنې، کار او زدکړې ته لږ لاسرسی لري او هېڅ داسې نښې نښانې نهلېدل کېږي چې په نږدې راتلونکې کې به وضعیت بدلون ومومي.

په جون میاشت کې د امنیت شورا ۱۹۸۸م کال بندیزونو کمېټې د طالبانو پوهنې وزارت دوه وزیران له شپږم ټولګي پورته د نجونو ښوونځیو د تړل کېدو له کبله د سفر بندیز معافیت له نوملړ څخه لرې کړل. په اګست میاشت کې، د امنیت شورا غړیو تر منځ د اختلاف له کبله د پاتې طالب چارواکو د سفر معافیت موده هم پای ته ورسېده، خو لا هم څرګنده نهده چې پر افغان ښځو د طالبانو ځپونکې پالیسي له کبله به دا موده څومره وغځول شي. په تازه اقدام کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي، روزا اتونبایوا Roza Otunbayeva د افغانستان لهپاره د ملګرو ملتونو ماموریت (یوناما) ته د نوي ځانګړي استازي او مارکز پوټزل Markus Potzel د ځانګړي مرستیال استازي په توګه وټاکل.

دغه لنډه ارزونه د څېړنې او پراختیا سازمان[1] د "واوره یا ښنو" نوښت[2] یوه برخه ده. د ۲۰۲۲م کال په جولای[3] او اګست[4] کې د څېړنې او پراختیا سازمان په ۱۷ولایتونو کې د بشري حقونو او روان اقتصادي او سیاسي بحراني[5] وضعیت او امنیتي حالت په تړاو له ۴۶۴۱ ښځو سره خبرې کړي او په همدې اړه یې د هغوی نظرونه راټول کړي. د څېړنې او پراختیا سازمان د ښځو سولې ډلې بیا له ۱۳۳ګډونوالو سره په لسو ولایتونو کې د دې سروې د پایلو او د هغوی لیدلوریو[6] د لا پوهاوي په موخه په ډلهییز ډول هم بحثونه کړي دي.

### د ښځو بشري حقونه

> "پخوا به یوې ښځې ښار ته ازاد تګ-راتګ کولای شو، خو اوس باید هغسې جامې په تن کړي څنګه چې ورته د حکومت له لورې ویل شوي وي، باید له نورو واټن واخلي او که کور ته ناوخته راځي، باید نارینه محرم ورسره وي. زه نه ورور او نه پلار لرم؛ نو نارینه محرم له کومه کړم؟ [...] کله چې بازار ته په سودا پسې ځم، عسکر مو څاري او زموږ د جامو په اړه خبرې کوي. له موږ سره باید د انسانانو په څېر چلند وشي، نه د غلامانو غوندې چې هېڅ حقونه نهلري، موږ د ژوند کولو حق لرو، خو هغوی موږ د دې ټولنې نیمه برخه نهبولي."
>
> - د جوزجان ولایت د بحث ګډونواله، اګست ۲۰۲۲

یو کال کېږي چې طالبان واک ته رسېدلي او له هماغه پیل تر ننه د افغان ښځو خوندیتوب او د حقونو ساتنه یې یوه تر ټولو مهمه او د بحث وړ موضوع ده.[7] که وګورو د عمومي او شخصي ژوند په هر اړخ کې د ښځو حقونو په برخه کې شاتګ څرګند شوی او د زیاتېدو وېره یې هم شته. د سروې نیمایي برخهوالو ښځو ویلي چې له کوره د وتلو پرمهال د ځان خوندیتوب په اړه ورته یو ډول احساس پیدا کېږي او دا احساس د طالبانو هغو محدودیتونو له کبله دی چې د دوی په سیمو کې لګول شوي دي.[8] تر ډېره بریده ځواني ښځې له کوره بهر نهوځي. د ښځو عامه او شخصي ژوندانه په رابطه د طالبانو پالیسیو او وینااو د هغوی پر کورني ژوند هم اغېز کړی او د ملګرو ملتونو موندنو له مخې د کورني تاوتریخوالي په کچه کې هم ډېروالی راغلی دی. د سروې برخهوال وايي، په کورني تاوتریخوالي کې ډېروالی په دې معنا دی چې "نه په کور کې او نه هم دباندې امنیت شته."[9] د بحث ډېری ګډونوالو همداراز زیاته کړې چې د ښځو لهپاره دغه ناوړه وضعیت په ځانوژنو کې هم د ډېروالي سبب شوی دی. د سروې ګډونوالو زیاته کړې، طالبان لپوالتیا نهلري چې ښځې دوی ته د کورني تاوتریخوالي[10] پېښو په اړه راپور ورکړي او پر سفر بندیزونه او بنسټیزو سرچینو ته نهلاسرسی ښځې له داسې یوه حالت سره مخ کړې چې فکر کوي د سړیو له اجازې پرته " نه خبرې کولای شي او نه ساه"[11] اخیستلی شي.

د سروې برخهوالو د هغې لاربښوونې په اړه چې ښځې له کوره دباندې د وتلو پر مهال باید له یوه نارینه محرم سره لاړې شي، ویلي چې دې چارې د دوی بشري حیثیت تر پښو لاندې کړی او دوی ته یې په روغتیا، کار کولو او ورځني ژوندانه کې اساسي ستونزې او خنډونه جوړ کړي دي.[12] د دې شرط عملي کول په دې دلیل کومه اسانه خبره نهده چې د تېرو دوو لسیزو جګړو په نتیجه کې لسګونه زره نارینه وژل شوي یا ټپیان شوي دي. د سروې برخهوالو ویلي، دوی په اسانۍ دغه شرط نهشي پوره کولای، ځکه دوی نارینه محرم نهلري چې له دوی سره راووځي.[13] یوې برخهوالې ویلي، طالبانو ته ورغلې وه او

هغوی ته يې ويلي و چې ورور نهلري او پلار يې ۸۰سلنه فزيکي او ذهني معلول دی، خو هغوی ورته په ځواب کې ويلي وو چې"دا زموږ ستونزه نهده، دا ستا ستونزه ده."[14]

ښځې وايي، که څه هم چې د طالبانو قوانين يې رعايت کړي، خو بيا هم د سيمهييزو طالبانو له لوري ورته د هر ډول قوانينو د عملي کولو ويل شوي او د ځورولو بېلګې او مثالونه يې هم وړاندې کړي دي:

> "زه مې له ورور سره يوې ولسوالۍ ته تلم، څو ځله يې له موټره راښکته کړو او **باور يې نهکاوه چې هغه دې زما ورور وي. هغوی ويل چې زه بايد رښتيا ووايم، که نه زما لهپاره به ښه نهوي."**
> له موږ څخه په ساعتونو-ساعتونو پوښتنې ګروېږنې شوې.
> په دايکندې ولايت کې د بحث ګډونواله، اګسټ ۲۰۲۲

د سروې يوې بلې ګډونوالې همداراز ويلي:"کله چې کار ته ځو، له موږ سره بايد محرم وي، د دې با وجود هم طالبان په موږ باور نهکوي او خلک راالېږي چې وګوري موږ څه کوو."[15]

دا بېلګې څرګندوي چې د طالبانو له لوري پر ښځو د محدوديتونو لګول او له محرم پرته له کوره وتل نهيوازې له زيانه ډک کار دی، بلکې د طالبانو له لوري ډېرېدونکی تاوتريخوالی او ګواښ، د ذهني او رواني فشار سبب کېږي هم. د سروې ځينو ګډونوالو ويلي، که د طالبانو قوانين رعايت نهکړي، د هغوی پر ځای يې د کور نارينهوو ته سزا ورکول کېږي او دا عمل بيا په کور کې د خپګان او تاوتريخوالي لامل کېږي.[16] د طالبانو قوانينو پر رعايتولو سربېره، د ښځو پرلهپسې ځارل، ځورول او تر څنګ يې د ښځو وژل، لادرکه کول او د تاوتريخوالي نور ډولونه د ښځو لهپاره د ډار فضا د رامنځته کېدو لامل کېږي.

د ښځو ازاد سفر په اړه چې طالبانو پرې محدوديتونه لګولي، هم ځينې بېلګې وړاندې شوي، په دې اړه يوه ګډونواله وايي:

> "د لويو امنيتي ستونزو د حل پر ځای، **پر ښځو د محدوديتونو لګولو په اړه ډېر اندېښمن دي**؛ د دوی لهپاره تر ټولو سکون بښونکې خبره دا ده چې يوه بېمحرمه ښځه ودروي چې چېرې ځي." – په بلخ ولايت کې د بحث ګډونواله، اګسټ ۲۰۲۲

يوې بلې ګډونوالې ويلي چې هغوی يوازې د خپل جنسيت له کبله ځورول شوي:

> **طالبان يوازې پر ښځو تمرکز کوي** چې ښځې څه کوي، څه اغوندي، يوازې ښځې د دوی دښمنانې دي [...] **موږ په دې خاطر ګناهګارې يو چې ښځې يو.** – په جوزجان ولايت کې د بحث ګډونواله، اګسټ ۲۰۲۲

## بشري امنيت

> **د امنيت معنا ارامي او سکون، نه جګړه.** [..] يوازې د ډزو او چاودونو ډارووونکي غږونو نهاورېدل دا معنا نهلري چې موږ امنيت لرو. **د کار نشتوالی، بېوزلي او د نجونو ښوونځيو دروازو تړل کېدلو ته هم نامني وايي.** که زه وغواړم له کوره دباندې ووځم، [...] نهشم کولای، موږ نهشو ويلای چې موږ خوندي يو، په يوه شپه کې د حکومت برخليک له بدلېدو سره سم زموږ راتلونکې هم بدله شوه. – په بغلان ولايت کې د بحث ګډونواله، اګبنت ۲۰۲۲

که څه هم د ۲۰۲۱م کال په اګسټ کې د طالبانو او افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو له لوري مخامخ جګړه پای ته ورسېده او د سياسي تاوتريخوالي د کمېدو سبب شوه، خو د سروې ګډونوالو ويلي چې لا هم طالبان په څه ډول ملکي وګړي په نښه کوي او په دې برخه کې د ۲۰۱۱م کال له اکتوبر راهيسې په کې زياتوالی راغلی دی. د دې تر څنګ د بشري امنيت نشتوالي په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی او نامني ډېره کړې ده.

ډېر کم شمېر ګډونوالو د "ښه امنيت" په اړه نظرونه ورکړي، خو په ټوله کې ګډونوالو ويلي چې امنيت ته هغه وخت ښه امنيت ويلی شو چې امنيت ته په سطحې ډول ونهکتل شي. د بحث ګډونوالو په ټينګار سره ويلي چې امنيت يوازې د جګړې او بمونو دړول نهدي. دوی ويلي، له کله چې طالبانو واک ترلاسه کړی، د هغوی ځېونکې پاليسۍ ښځې له کار کولو راګرځولې، له بنسټيزو حقونو بېبرخې دي او تر څنګ يې بشري او اقتصادي ناورين، د ټولنيز، اقتصادي، رواني او روحي امنيت د نشتوالي سبب شوی دی.[17]

> "په هېڅ صورت امنيت امکان نهلري. [...] [موږ چې څه په افغانستان کې لرو] هغه ډار او وېره ده، او که

> ستا خوښه وي یا نه، خو اړ یې چې له خپلو حقونو تېر شې. له خپل تعلیم او د ژوند کولو له خپلواکۍ تېر شې." – په هرات کې د بحث ګډونواله، اګست ۲۰۲۲

ګډونوالو همداراز، د بېروزګارۍ، د نجونو ښوونځیو تړل کېدو او د ازاد تګ-راتګ موضوعات هم راپورته کړي او د امنیت نشتوالي پورې یې تړلي دي. [18] دوی نه‌پوهېږي چې د ژوند لومړنۍ چارې به په څه ډول پر مخ ته یوسي؛ لکه د خوړو پیدا کول او که له دې ګواښ سره مخ شي، څه مرسته به ترلاسه کړي او که نه؛ دا د امنیت نشتوالي مهمې برخې وې چې ښځو یې په اړه یادونه کړې وه. [19] یوې ګډونوالې په دې اړه ویلي:

> **"کله چې بې‌روزګاري او بې‌وزلي وي او د نجونو ښوونځي تړلي وي، همدې ته د امنیت نشتوالی وایي."** – په بغلان ولایت کې د بحث ګډونواله، اګسټ ۲۰۲۲

د سروې ګډونوالو همداراز ویلي، بشري ناامني نه‌یوازې د دوی خوندیتوب له ګواښ سره مخ کوي؛ بلکې دا وضعیت د شته تاوتریخوالي زمینه هم برابروي. دوی زیاتوي چې د اوسني تاوتریخوالي ریښه په اقتصادي بحران کې نغښتې ده. د بېلګې په توګه، په هغو سیمو کې چې غلاوې ډېرې وي، ښځې له ډېرو حقونو بې‌برخې دي او یوه ګډونواله په دې اړه زیاتوي:

> **"وسله‌والې غلاوې د بې‌وزلۍ او لوږې له کبله ډېرې شوي، ځکه خلک اړ باسي چې د خوړو د پیدا کولو له‌پاره هر څه وکړي."** – په دایکندي ولایت کې د بحث ګډونواله، اګسټ ۲۰۲۲

د سروې ګډونوالو د دې تاوتریخوالي په اړه د اندېښې په څرګندولو سره ویلي، که اقتصادي حالت ښه شي، غلاوې به ورسره راکمې شي. ځینو کسانو بیا ویلي چې د ملکي وګړو پر وړاندې د دې تاوتریخوالي سبب په خپله طالبان دي، په تېره بیا هغه کسان امن او خوندي نه‌دي چې د طالبانو لارښوونې نه مراعتوي. [20] له هر ولایت څخه د سروې ګډونوالو د طالب وسله‌والو له لورې د وژنو، بې‌درکه کېدو، بریدونو او ځورونې په اړه بېلګې وړاندې کړې چې ښځې د سفر، مارکېټ او پارک ته د تګ پر مهال څه ډول زیانمنې شوي. [21] ځینو ګډونوالو د امنیت نشتوالی او مدني فعالیت او د بیان پر ازادۍ د بندیزونو لګول په دوو برخو وېشلي دي. یوه برخه ګډونوالو ویلي، هر چا چې د طالبانو مخالفت وکړ، په خطر کې دي:

> د مدني ټولنو غړي او هغه خلک چې د طالبانو پر خلاف غږ پورته کړي، د وژل کېدو او یا د خاموشه کېدو له خطر سره مخ دي." – په بلخ کې د بحث ګډنواله، اګسټ ۲۰۲۲

له بامیان څخه یوه بله ښځه وایي:

> "څنګه موږ ویلای شو چې امنیت ښه شوی دی؟ **یو وخت به نجونو د خلکو غږ پورته کاوه چې حکومت یې واوري، خو نن دوی خپل نه‌شي پورته کولای**، نن په کور کې ناستې دي؛ نو موږ نه‌شو ویلای چې امنیت شته. – په بامیان کې د بحث ګډونواله، اګسټ ۲۰۲۲

له بېلابېلو ولایتونو ځینو ښځو بیا ویلي، هغه کسان او کورنۍ له ډېر خطر سره مخامخ دي چې په تېر حکومت کې یې کار کړی او په دې اړه ملګري ملتونه او مدني ټولنې په ورځني ډول اسناد هم مستندوي.

د سروې ګډونوالو همداراز ویلي، د دې با وجود په سیمه‌ییزه کچه ځینې تاوتریخوالي د نورو فکتورونو له کبله هم رامنځ ته شوي. له دې فکتورونو یې په یوه سیمه کې د یوه ځانګړي قوم او مذهبي ډلو اوسېدل هم یاد کړي دي. یوې ګډونوالې په دې اړه ویلي:

> "د شیعه او هزاره وګړو پر خلاف چاودنې او وژنې دا په ډاګه کوي چې د ټولو وګړو له‌پاره امنیت یو ډول نه‌دی." په بلخ کې یوه ګډونواله، اګسټ ۲۰۲۲

که څه هم دا ډول تاوتریخوالی د داعش له لوري ترسره شوی، خو ګډونوالو او ملګرو ملتونو ویلي چې طالبان د دې بریدونو په مخنیوي کې پاتې راغلي دي.

## سپارښتنې

- امنیت شورا باید د نړیوالو قوانینو سره سم د ښځو ټولو بشري حقونو د خوندیتوب او دودولو څخه څرګند او غوڅ ملاتړ وکړي او د ښځو حقونو زیانمنولو په برخه کې سختې پالیسۍ په عاجله او ښکاره توګه وغندي. دغه راز د دغسې سرغړونو د پېښېدو په صورت کې د ښځو بشري حقونو مدافعینو، سوله غوښتونکو، خبریالانو او د مدني ټولنې استازو له فعالیتونو سر هم‌غاړي شئ او ترې کلک ملاتړ وکړئ.

- امنیت شورا باید له طالبانو وغواړي چې د ښځو پر حقونو او په ځانګړي توګه د ازاد تګ راتګ، کارکولو، زدهکړو ته د لاسرسي په برخو کې ټول لګول شوي محدودیتونه له ځند او شرط پرته لرې کړي او د نړیوالو قوانینو پر بنسټ د ښځو ټولو حقونو ته درناوی وکړي.

- امنیت شورا دې د یوناما پر ارزښت بیا ټینګار وکړي او په بشپړ ډول دې د ښځو حقونو او د هغوی جنسیت برابرۍ، خوندیتوب، دفاع او پرمختګ په برخو کې خپل مکلفیت ادا کړي.

- د یوناما په ګډون د ملګرو ملتونو لوړپوړي مشران باید په خپلو چارو کې د بشر حقونو اساسي اصولو ته لومړیتوب ورکړي او د جندر برابرۍ ته ژمن پاتې شي. د دې ترڅنګ دې امنیت شورا ته په درې میاشتني راپور او نورو ټولو لنډو راپوررونو کې د بشري حقونو سرغړونې په داګه او په مفصل ډول تحلیل کړي او په ځانګړي توګه د ښځو او نجونو حقونه، د محرومو ټولنو حقونه، د تاوتریخوالي نمونې او د سیاسي بهیرونو په لړ کې د ښځو بشپړ، برابر او معناداره ګډون دې تضمین کړي او د ښځو بېلابېلو مدني ټولنو سره دې منظمې سلا مشورې اړینې وګڼي.

- نړیواله ټولنه باید دا ډاډ ترلاسه کړي چې په افغانستان کې پرمختګ د ټولیزو معیارونو له مخې کیږي او د تبعیض هغه پالیسي دې له منځه لاړه شي چې ښځې او نجونې په کې په نښه کیږي. همداراز په حکومتولۍ او سولې او سیاسي پروسو کې د ښځو ګډون په رابطه او د بېوزلۍ او لوږې کمولو، جنسیتي او کورني تاوتریخوالي لهمنځهوړلو په برخو کې دې د اقداماتو له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه شي.

---

[1] The Organization for Policy Research and Development Studies (DROPS) is an interdisciplinary and independent think-tank based in Kabul that conducts evidenced-based research, policy trainings and advocacy.

[2] BISHNAW, which translates to "listen" in *Dari,* is a digital initiative developed by DROPS that systematically captures Afghan women's opinions at the provincial level on economic, political, social and security issues on a monthly basis which is fed into international Track I discussions to ensure women's opinions are reflected in all policy decisions relating Afghanistan.

[3] DROPS, through its BISHNAW initiative, surveyed 2,082 women in July 2022.

[4] DROPS, through its BISHNAW initiative, surveyed 2,559 women in August 2022.

[5] DROPS, through its BISHNAW initiative, surveyed women located in Balkh, Bamiyan, Badghis, Baghlan, Diakundi, Farah, Faryab, Helmand, Herat, Jowzjan, Kabul, Kandahar, Kunar, Nangarhar, Panjsher, Paktika and Takhar.

[6] DROPS, through its BISHNAW initiative, facilitated focus group discussions with DROPS Women Peace Circles in Balkh, Bamiyan, Baghlan, Diakundi, Farah, Faryab, Jowzjan, Kabul, Kandahar, Kunar, Nangarhar, Panjsher, Paktika and Takhar.

[7] BISHNAW, July 2022.

[8] BISHNAW, Focus Group Discussion with DROPS Women Peace Circle in Daikundi, August 2022.

[9] Ibid.

[10] BISHNAW, Focus Group Discussion with DROPS Women Peace Circle in Bamiyan, August 2022.

[11] BISHNAW, Focus Group Discussion with DROPS Women Peace Circle in Herat, August 2022.

[12] BISHNAW, Focus Group Discussion with DROPS Women Peace Circle in Baghlan, Balkh, Bamyan, Daikundi, Farah, Faryab, Herat, Jowzjan, Kandhar, and Paktia, August 2022.

[13] Ibid.

[14] BISHNAW, Focus Group Discussion with DROPS Women Peace Circle in Baghlan, August 2022.

[15] BISHNAW, Focus Group Discussion with DROPS Women Peace Circle in Bamiyan, August 2022.

[16] BISHNAW, Focus Group Discussion with DROPS Women Peace Circle in Daikundi, August 2022.

[17] Ibid.

[18] Ibid.

[19] Ibid.

[20] Ibid.

[21] Ibid.